# د قربانی متعلق(۶۷) مسایل

تالیف : الشیخ محمد بن صالح المنجد (حفظه
الله تعالی)

پښتو ژباړه : عامر حسن ( غفر له )

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

الحمدلله والصلاة والسلام علی رسول الله وعلی اله وصحبه ومن والاه اما بعد:

۱- اضحیه هغه حیوان ته وایی چی د غټ اختر په ورځوکی د الله د قربت حاصلولو په نیت سره ذبح کولی شی لکه اوښان ،ګډی او بیزي غواګانی

او اضحیه ورته ځکه وایی چی پدی ورځوکی دا د اشراق په وخت کی ذبح کولی شی یعنی د دورځی د راختو په وخت او دیته اضحیه او ضحیه هم وایی

۲- د اضحیه حکم د هجرت په دویم کال باندی نازل شوی دی او دا د اسلام د شعایرو څخه ده چی دکتاب سنت او اجماع په ذریعه سره مشروعه شوی ده

الله تعالی فرمایی خپل رب لپاره مونځ وکړه او قربانی وکړه

او د هر امت لپاره مونږ یو عبادت (حج)ګرځولی دی دی لپاره چی دالله نوم په هغه حیواناتو باندی واخلی چی الله دوی ته ورکړی دی

او قربانی کول د نبی علیه السلام نه قولا او عملا ثابت ده او پدی باندی تر وسه پوری مسلمانان عمل کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳-د قربانی اجر او ثواب ډیر زیات دی لیکن هیڅ حدیث کی دا نشته چی

څومره مقدارکی یی ثواب دی

ابن العربی المالکی رحمه الله فرمایی : د قربانی د فضایلو باره کی خلکو ډیر احادیث روایت کړی دی چی ټول عجایب او غرایب دی ( صحیح ثابت ندی )

او باید هغه څوک دی دی مساله ته متوجه شی چی په اجتماعی ویب سایټو باندی احادیث نشروی او یو بل سره شریکوی

۴- د جمهورو علماو په نزد قربانی سنت موکده ده او بعضی علما وایی چی دا

په قدرت لرونکی باندی واجب ده

او دا د ابو حنیفه مذهب دی او یو روایت د امام مالک او احمد نه هم شته او شیخ الاسلام ابن تیمیه هم غوره کړی دی نو هیڅ مسلمان مومن چی قدرت لری هغه له جایز ندی چی دی کی کوتاهی وکړی

ابو هریره رضی الله عنه فرمایی د چا چی قدرت او وس وی او بیا هم قربانی ونکړی نو زمونږ عیدګاه ته دی نه راځی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵- قرباني د ټولو خلکو په حق کې مشروع ده سړی وی که ښځه مسافر وی او**

**که مقيم د بانډې والا وی اوکه ښار والا مګر حاجی نو د امام مالک په نزد حاجی قرباني نشی کولی بلکې هغه باندی هديه لازمه ده او دا قول شيخ الاسلام بن تيميه رحمه الله اختيارکړی دی**

**او د هغه شاګرد ابن القيم هم غوره کړی دی او په معاصرينوکې د شيخ ابن العثيمين همدا قول غوره کړی دی**

**۶- د چا سره چې د قرباني کولو لپاره پيسی نه وی نو څه باک نشته چې د چا**

**نه قرض وکړی کله چې هغه اميد لری چې دا واپس کړی مثلا که چيرته يی وظيفه درلوده نو قرض به راوخلی او دمياشتی په اخرکې د تنخواه نه به يی ورته اداکړی**

**يا دی د قرباني څناور په کشتونو باندی واخلی البته که د قرض د واپس کولو اميد نه لری نو بهتره داده چې قرض ونکړی دی لپاره چې هغه شی په ځان باندی واجب نکړی چې الله پری ندی واجب کړی**

**شيخ الاسلام بن تيميه رحمه الله فرمايی که چيرته د قرض واپس کولو اميد يی لره نو قرض کول ورله بهتر دی او دا کار پری واجب ندی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۷- د هغه صدقاتو څخه چې مستحب دی یو دا هم ده چې د قربانی څخه

عاجز مسکین خوشحاله کړی شی او هغه داسی چې د قربانی کولو پیسی ورله ورکړی شی یا ورته یو حیوان هدیه کړی شی چې قربانی پری وکړی د عقبه بن عامر رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبی علیه السلام د قربانی څناور د صحابه مابین کی تقسیم کړی وو

او د ښوکارونو او نیکیو څخه دا هم ده چې د چا چې ډیری قربانیانی وی هغه دی باید یو داسی فقیر ته یوه ترینه ورکړی چې اهل او عیال لری او د خپلوانو څخه وی چې په خپل کور کی حلاله کړی او هغه او د هغه اهل ټول په خوشحالی کی شریک شی

## ۸- د قربانی حکمتونه

۱ـ د الله تعالی عبادت کول پدی سره چې دالله تعالی حکم نافذ کړی شی الله تعالی فرمایی الله ته ددی څناورو غوښی او وینی نه رسیږی بلکی هغه ته ستاسو تقوی رسیږی

۲ـ د ابراهیم علیه السلام د سنتو ژوندی کول

۳ـ د الله تعالی په مختلفو نعمتونو باندی شکر ایستل او د هغی څخه یو نعمت د حیواناتو نعمت دی

الله تعالی فرمایی دی لپاره چې هغوی خپلو فایدو ته حاضر شی او د الله نوم په معلومو ورځوکی یادکړی څکه الله تعالی دوی ته چارپایان ورکړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- دی لپاره چی د مختلفو هیوادونو خلک د حج په بعضی شعایروکی د یو بل سره شریک شی

۴- په ځان او اهل بیت باندی خرچه کول او دګاونډیانو او دوستانو اکرام کول او د اختر په ورځ په فقیرانو باندی صدقه کول

## ۹- د قربانی ذبح کول د هغی په پیسو باندی د صدقه نه غوره دی ځکه

قربانی ذبح کول د اسلام د شعایرو او د نبی علیه السلام د سنتو څخه ده

او دا د ایمه اربعه مذهب دی سعید بن المسیب فرمایی که زه په یوه بیزه باندی قربانی وکړم دا ماته ددی نه ډیر خوښ دی

چی سل درهمه صدقه ورکړم

او ځکه چی ذبح کول یو مستقل عبادت دی چی مقصود دی

الله تعالی فرمایی او خپل رب لپاره مونځ وکړه او قربانی ورکړه

اوکه چیرته ددی نه خلکو مخ واړو او ددی په ځای یی د پیسو صدقه کول شروع کړل نو دا شعیره او حکم به معطل او عبث شی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۰- په قرباني کې اصل دادې چې دا د ژوندو په حق کې مشروع ده لکه نبي**

**علیه السلام او د هغه صحابه و به د خپل ځانونو او اهل بیت له طرفه قرباني کوله**

**او د مړو له طرفه قرباني کول هم جایز دې لیکن که هغوی وصیت کړی وی نو د هغوی د وصیت تنفیذ به کیږی**

**یا د ژوندو سره که هغوی هم په مجازی طور سره حساب شی مثلا یوکس د خپل ځان او اهل بیت له طرفه قرباني کوی او هغه د مړو او ژوندو دواړو نیت وکړی**

**۱۱- د مړی د طرفه د قرباني پیسی ورکول جایز دی او فقهای کرام فرمایی**

**چې ددی ثواب به مړی ته رسیږی او هغی ته فایده هم رسیږی لکه څنګه چې د هغه له طرفه د صدقه فایده هغه ته رسیږی**

**او شیخ الاسلام بن تیمیه رحمه الله فرمایی چې د مړی له طرفه د قرباني پیسی صدقه کول ددی نه بهتر دی چې قرباني ذبح کړی شی ځکه د مړی د طرفه قرباني کول د سلفو په وخت کې نه وو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۲- د قرباني د صحت لپاره دا شرط دی چې د چارپايانو څخه به وی لکه لکه اوښان غواګانې ګډې او بيزې او ددی ټول اقسام ځکه الله تعالى فرمايي**

**۱۳ -يوه ګډه او بيزه د يوکور د افرادو له طرفه کافی ده**

**نوکه يوکس دکور والاو نه قرباني وکړی يا يوی ښځې د خپل خاوند له طرفه يا د اهل بيت له طرفه قرباني وکړه نو دا ټول به په اجرکې شامل وی او حکم د قرباني به نافذ وی**

**ابو ايوب انصاری رضی الله عنه فرمايي يوکس به د ځان له طرفه او دکورو خلکو له طرفه يوه قربانی کوله او خپله به يې هم خوړله او نورو ته به يې هم ورکوله**

**۱۴-که چيرته قرباني کونکی په قربانی کی د يوکس د شموليت نيت ونکړی نو هغه به ددی نيت نه بغير هم پکی شامل وی کله چې هغه دده د اهل بيتو څخه وی**

**او د اهل بيت نه مراد هر هغه څوک دی چې په عرف او لغت کی پری ددی لفظ اطلاق کيږی لکه اهل عيال ښځه او بچيان**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۵- که چیرته یوکورکی ډیر ورونه سره د اولادو اوسیدل نو د ټولو د طرفه یوه قرباني کافي ده البته که د هریو بیل بیل کور وی نو هر یوکور والا به بیله بیله قرباني کوی

۱۶- د چا چی د یو ښځی نه ډیری ښځی وی د هغی ټولو له طرفه یوه قرباني کافي ده لکه د نبی علیه السلام یوه قرباني د هغه د ټولو بیبیانو له طرفه کافي شوی وه

لیکن یوه ښځه به د قرباني په څه شی سره خاص کولی نشی بلکی ټولی به یو شان حیثیت لری

۱۷- په اوښ کی وه کسان حصه اغستلی شی ( د وه کسانو له طرفه کافي دی ) او دغه شان په غوا کی هم وه کسان شریکدی شی جابر بن عبدالله رضی الله عنهما فرمایی چی د حدیبیه په موقع باندی مونږ د نبی علیه السلام سره یو ځای قرباني وکړه او یو اوښ مو د وه کسانو له طرفه حلال کړ او یوه غوا مو د وه کسانو له طرفه ذبحه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۸- په غوا یا اوښ کې شراکت جایز دی اګرکه بعضې شریکان قرباني کول
نه غواړي بلکې نذر یې منلی وي یا صدقه کول غواړي یا د میلمه لپاره غوښه
کول غواړي یا وغیره وغیره او هر یو ته به د نیت ثواب میلاویږي

۱۹- په غوا یا اوښ کې د وه کسانو نه کم هم شریکیدی شي ځکه چې کله وه
پکې شراکت کولی شي نو من باب اولی پکې د وه نه کم شریکیدی شي

۲۰- په ګډه او بیزه کې د یوکس نه زیات شراکت نشي کولی ځکه دی باره کې
څه دلیل نشته لکه څنګه چې اته یا ډیرکسان په اوښ او غواه کې نشي شریکیدی
ځکه عبادات ټول توقیفي دي د حد نه تجاوز کول پکې صحیح ندی نه دکمیت
( څومره والی ) په لحاظ سره او نه دکیفیت په لحاظ سره

۲۱- په قرباني کې کوم حیوان ذبح کول بهتر دی بعضې علما وایي چې
افضل دادی چې ګډه ذبح کړی شي ځکه دا د نبي علیه السلام عمل دی او
جمهور علماو وایي افضل اوښ دی بیا غوا بیا ګډه بیا بیزه
او ددوی دلیل دا حدیث دی چې نبي علیه السلام فرمایي چا چې د جمعې په
ورځ د جنابت غسل وکړ او بیا مسجد ته لاړی نوګویا کې هغه د اوښ صدقه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ورکړه او څوک چې په دویم ساعت کې لاړ نوګویا کې هغه د غوا صدقه وکړه او څوک چې په دریم ساعت کې لاړ نوګویا کې هغه دګډ قرباني وکړه**

**نو اوښ یې د ټولو نه مخکې ذکرکړه بیا یې غوا بیا یې ګډ**

**۲۲- د قرباني لپاره هغه حیوان افضل دی چې چاق وی غوښه یې ډیره وی په خلقت سره کامل وی ښایسته شکل لری**

**ابو امامه بن سهل فرمایي مونږ به د قرباني لپاره حیوانات څربول او مسلمانانو به هم څربول**

**د انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبی علیه السلام به په دوه ګډانو قرباني کوله چې برګین او ښکره ور به وو**

**۲۳- باید د قرباني څناور هغه عمر ته رسیدلی وی چې شریعت د قرباني د څناور لپاره مقرر کړی دی**

**نبی علیه السلام فرمایي مه ذبحه کوی مګر دوه کلني حیوان مګرکه ستاسو حالت کمزوری وی نو دګډی شپږ میاشتینی بچی هم ذبح کولی شی**

**د مسنه نه مراد هغه دی چې غاښونه یې راغلی وی او جذعه بیا ددی نه کم دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

او مسنه په اوښانوکی د اوښ هغه بچی چی پینځه کاله یی شوی وی او شپږم یی روان وی

او په غواه ګانوکی هغه د غوا بچی چی دوه کاله یی شوی وی او دریم یی روان وی

او په بیزوکی چی یوکال یی شوی وی او دویم کی روان وی

او په ګډوکی چی شپږ میاشتی یی شوی وی او ومی کی داخلی وی

نو په قربانی کی ددی خاص عمر خیال کول ضروری دی نه پدی کی کموالی جایز دی او نه تجاوز

**۲۴- باید د قربانی ځناور د قربانی کونکی په ملکیت کی وی یا یی اغستی**

وی یا ورته چا هبه کړی وی یا ورته میراث کی پاتی شوی وی

او د یتیم ولی کولی شی چی د هغه د مال څخه د هغه لپاره قربانی وکړی کله چی هغه پری خوشحالیږی اوکه ونه کړی شی نو زړه یی خفه کیږی

ابن قدامه رحمه الله فرمایی کله چی د یتیم له طرفه قربانی کوی نو په هغی باندی به صدقه نه کوی بلکی ټوله غوښه به یتیم ته ورکوی ځکه د یتیم د مال نه صدقه ورکول صحیح ندی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲۵- د قرباني د صحت لپاره شرط دادی چی په مقرر وخت کی به قرباني کوی کوم چی شریعت مقرر کړی دی**

**او د قرباني وخت د اختر د مونځ نه پس شروع کیږی**

نبی علیه السلام فرمایی پدی ورځ کی اولنی کار چی مونږ یی کوو هغه دادی چی مونځ کوو بیا راځو او قربانی کوو او چا چی دا کار وکړو نو هغه زمونږ دستو تابعداری وکړه

**۲۶- چا چی د اختر د مونځ نه مخکی قرباني وکړه نو دا قرباني یی نه کیږی او نه به ورله کافی شی**

نبی علیه السلام فرمایی چا چی د مونځ نه مخکی قربانی وکړه نو دا صرف غوښه ده چی خپل اهل ته یی وړاندی کوی او عبادت او نسک ندی

**۲۷- د قرباني وخت د څلورمی ورځی په نمر پټیدو باندی ختمیږی یعنی د قرباني څلور ورځی دی د اختر ورځ او دری ورځی د اختر د اولنی ورځ نه وروسته**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۸- د قربانۍ بهترین وخت اولنۍ ورځ ده او هغه وخت دی چې خلک د مونځ نه فارغ شي او هره بله ورځ د هغې ورځې نه بهتره ده چې راتلونکې وي ځکه پدې کې د خیر په کارکې مخکې والی دی او ښه خبره داده چې ځلورمې ورځې ته قرباني وروسته نکړې ځکه چې بعضې علماو ویلی دی د قربانۍ ورځې صرف درې دي

۲۹- قرباني کول دورځې او دشپې دواړو وختونوکې جایز دی البته دورځې یې کول ډیر افضل دی دی لپاره چې د شعیره اظهار وشي او غریبانان یې ووینې

۳۰- که د قربانۍ وخت ترینه تیر شو او قرباني یې ونکړه نوکه صرف قرباني وه هیڅ باک نشته البته که نذر یې منلی وو نو د قربانۍ قضایي به راړوي او وروسته به یې ذبح کوي او د ذبح طریقه به همغه وي لکه څنګه چې یې اختر کې ذبح کوي

۳۱- د قربانۍ د شروطو څخه دا هم دی چې د ټولو عیبونو نه به پاکه وي کوم عیبونه چې د قربانۍ په صحت کې مانع وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه قرباني ددی لپاره وی چی الله ته پری قربت حاصل شی او الله تعالی نه قبلوی مګر پاک شی نو پکار ده چی د قربانی ځناور د ټولو عیبونو نه پاک وی

**۳۲- په حدیثوکی څلور داسی عیبونه راغلی دی چی کوم حیوان کی موجود وی په هغی قربانی نه کیږی**

برا بن عازب رضی الله عنه فرمایی چی نبی علیه السلام په مونږکی ودریده او ویی فرمایل په قربانی کی جایز ندی هغه حیوان چی په یوه سترګه باندی ړوند وی او ړوند والی یی واضح وی هغه چی ګوډ وی اوګوډوالی یی ښکاره وی هغه چی مریض وی او مرض یی ښکاره وی او هغه چی بالکل غوښه پکی نه وی

**۳۳- د ښکاره مرض نه مراد هغه بیماری ده چی د هغی اثار په حیوان**

باندی ظاهر شی لکه تبه چی حیوان د خوراک څښکاک څخه منع کړی او هغه خارښ چی غوښه ورله خرابه کړی او په صحت باندی ورله بد اثر وکړی یا داسی زخم چی په بدن او صحت باندی ورله اثرکوی

البته معمولی مرض یا معمولی ګوډ والی یا لګ د غوښی کموالی څه پرواه نکوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳۴- پدی عیبونو پسی هغه عیبونه هم تړل کیږی ( یعنی هغه به هم ددی په حکم کی وی ) چی ددی پشان وی یا ددی نه سخت وی**

**لکه په دواړو سترګو ړوند حیوان ځکه دا د یو سترګی باندی د ړوند حیوان نه بدتر دی**

**مرګ ته  نژدی حیوان ځکه دا د ډیر مریض حیوان نه بدتر حالت کی دی**

**دکوم حیوان چی یوه ښپه یا لاس کټ شوی وی ځکه دا دګوډ حیوان نه بد تر دی**

**۳۵- غوږ خکر لکی کوناټی که د پیدایش نه غیر موجود وی نو دداسی حیوان باندی قربانی کول درست دی اوکه چیرته کټ کړی شوی وو نو بیا هم پری قربانی جایز ده لیکن مکروه ده البته که دګډی لم کټ کړی شوی وی نو دی باندی قربانی صحیح نده ځکه دا د بدن په یو خاص جزکی نقصان دی**

**۳۶- په هغه حیوان باندی قربانی کول مکروه دی چی غوږ یی شلیدلی وی یا یی بعضی غاښونه ولیدلی وی یا یی خکر مات شوی وی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳۷- په خصی څناور باندی قربانی جایز ده ځکه نبی علیه السلام په دوه

داسی ګډانو باندی قربانی کړی وه چی خصیان وو او ځکه په خصی والی سره د حیوان غوښه خوږیږی ابن قدامه رحمه الله فرمایی پدی مساله کی مونږ ته هیڅ اختلاف ندی معلوم

لکه څنګه چی نبی علیه السلام په غیر خصی حیوان باندی هم قربانی کړی ده لکه اهل سننو دا حدیث روایت کړی دی ابو سعید خدری رضی الله عنه فرمایی چی نبی علیه السلام به په یو غیر خص خکروړګډ باندی قربانی کوله چی تک تور به وو

## ۳۸- قربانی په دوه شیانو سره متعینه کیږی یا په قول سره چی ووایی دا

حیوان د قربانی لپاره دی یا په نیت سره چی د قربانی په نیت سره یو حیوان واخلی

## ۳۹-کله چی یو حیوان د قربانی لپاره متعین کړی نو دی باندی یو څو

احکام لاګوکیږی

۱ددی خرڅول هبه کول وغیر جایز ندی

ځکه دا د هغه شی په څیر شوه چی نذر کولی شی مګرکه ددی نه په غوره بل حیوان یی بدل کړی یا یی خرڅ کړی چی بل ددی نه ښه واخلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کله چی هغی ته داسی عیب ورسیږی چی د قربانی کولو مانع ګرځی نو ضروری ده چی هغه په یو بل حیوان سره بدل شی چی روغ وی**

**البته که دا عیب ورته بغیر د کوتاهی او تجاوز نه ورسیږی نو بیا دی ذبحه کړی څه باک نشته**

**که غلا کړی شو یا ضایع شو نو د هغی په شان بل راوړل به ددی ذمه واری وی البته که بغیر د کوتاهی او بغیر د تجاوز نه ترینه ضایع شی نو خیر دی**

**که بچی راوړی نو د بچی حکم هم ددی حیوان دی هغی سره به ذبح کولی شی**

**۴۰-چا چی د قربانی نیت وکړو او بیا یی نیت فسخ کړ نو هغه باندی هیڅ**

**نشته البته که د قربانی د حیوان تعیین یی کړی وی نو بیا یی ذبح کول ورباندی واجب دی او رجوع نشی کولی ځکه دا په تعیین سره دده د ملکیت نه وتلی دی**

**۴۱- د قربانی کونکی لپاره بهتره ده چی پخپله باندی حیوان ذبح کړی کله**

**چی خپله ذبح کولی شی ځکه ذبح یو عبادت دی او د الله قربت دی نو باید انسان یی پخپله ترسره کړی**

**او ځکه دا د نبی علیه السلام طریقه وه او نبی علیه السلام په هر شی کی زمونږ لپاره نمونه ده**

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوکه پخپله یی نشوه ذبح کولی نو بل چا ته دی ورکړی چی ذبح یی کړی ورله

۴۲- د قربانی د ذبح کولو لپاره بل څوک نایب ګرځول جایز دی ځکه نبی علیه السلام په حجه الوداع کی دری شپیته اوښان پخپله ذبح کړی وو او باقی یی علی رضی الله عنه ته سپارلی وو نو هغه سل مکمل کړل

۴۳- افضل داده چی هغه چاته ذبح وسپاری چی متقی وی او د ذبح په احکامو باندی علم لری

امام قرافی فرمایی خلکو به د ذبح لپاره دین داره خلک اختیارول

او د مسلمان لپاره احتیاط دی کی دی چی خپله ذبیحه یهودی یا عیسای ته ونه سپاری

۴۴- څوک چی د قربانی اراده لری هغه له جایز ندی چی خپل نوکان ویښتان کټ کړی د ذوالحجه د اولی ورځی نه تر دی چی قربانی وکړی

ام سلمه رضی الله عنها فرمایی چی نبی علیه السلام فرمایلی دی کله چی د ذوالحجه لس ورځی راشی او یوکس د قربانی اراده لری نو هغه له جایز ندی چی د خپلو ویښتو یا څرمن نه څه شی کټ کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او یو بل روایت کی دی چی ندی اخلی د خپلو ویښتانو او د خپلو نوکانو نه څه شی

امام نووی فرمایی چی د ویښتو او نوکانو نه د اغستلو معنی داده چی نوک په قلم کولو یا ماتولو سره کټ کړی شی یا ویښتان په خرولو وړوکی کولو ویستلو سوزولو وغیره سره ختم کړی شی

او د ویښتانو نه مراد د سر ویښته د تخرګونو ویښته د بریتونو ویښته د نامه نه لاندی ویښته او د بدن ټول ویښتان دی

نو د اختر د مونځ نه مخکی به ویښتانوکی هیڅ ګوتی نه وهی نه به یی کټ کوی اګرکه د اختر مونځ ته د زینت کولو په نیت دا کارکوی اوکه د اختر په اوله ورځ یی قربانی ونکړه نو همداسی په پاتی کیږی( یعنی ویښتان او نوکان به نه کټ کوی ) تر دی چی قربانی وکړی

## ۴۵- دا حکم هغه چا سره خاص دی چی قربانی کوی دکور نورو افرادو ته

دا منع متوجه نده ځکه نبی علیه السلام به د خپل کور والاو د طرفه قربانی کوله او هغوی ته یی حکم نه ووکړی چی ویښتان او نوکان دی نه کټ کوی

دی وجی نه د قربانی کونکی دکور خلکو لره جایز دی چی پدی لسو ورځوکی خپل ویښتان یا نوکان کټ کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴۶- دا نهی او منع خاص ده په هغه چا پوری چی قربانی د ځان له طرفه کوی البته که څوک د بل چا د طرفه قربانی کوی چی وصیت یی ورته کړی وی یا یی وکیل ګرځولی وی نو هغه پدی نهی کی نه شامیلږی( ویښتان او نوکان کټ کولی شی )**

**او بعضی زنانه چی دا کارکوی چی خپل زوی یا ورور ته د قربانی ورسپاری دی لپاره چی پدی لسو ورځوکی هغه خپلو ویښتانو یا نوکانوکی ګوتی ووهی دا کار جایز ندی ځکه حکم په قربانی کونکی پسی متعلق دی برابره ده که خپله قربانی وکړی یا یی بل ته وسپاری**

**۴۷-کله چی هغه کس چی د قربانی اراده یی وی د خپلو ویښتانو نوکانو یا د بدن د نوری حصی ویښان واخلی نو هغه باندی هیڅ کفاره نشته او دا کار یی ددی څخه مانع ندی چی قربانی به پرېږدی قربانی یی صحیح ده او قربانی یی نه باطلیږی لکه دا بعضی خلکوګمان دی بلکی الله ته به توبه اوباسی( او قربانی به کوی )**

**۴۸- که چیرته د ویښتانو یا نوکانوکټ کولو ته یی ضرورت راشی نو هیڅ باک نشته چی کټ یی کړی لکه یو نوک یی مات شی او درد کوی تکلیف ورته**

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسوی نو هیڅ حرج نشته چی کټ یی کړی یا یو ویښته یی په سترګو پروت وی او کټ یی کړی یا یو ویښته کټ کړی دی لپاره چی دغه ځای زخمی شوی دی او دوایی پری اچوی

او په ویښتوګمنزولوکی هیڅ حرج نشته اګرکه بعضی ویښتانو وغورځیګی بغیر د قصد نه

**۴۹- د ذبح د ادابو څخه دا هم ده چی د قربانی څناور د ذبحی ځای ته په**

نرمی سره بوځی او سختی دی پری نه کوی د ابن سیرین څخه روایت دی چی عمر رضی الله عنه یوکس ولیدو چی د قربانی څناور یی په ښه باندی وهو او روان کړی یی وو هغه ورته وویل هلاک شی د مرګ ځای ته یی په ارام سره بوځه

**۵۰- چاړه به د ذبح نه مخکی خه تیره کړی دی لپاره چی څناور ته تکلیف**

ورنکړی او دا د احسان څخه ده نبی علیه السلام فرمایی بیشکه الله تعالی په هر چی باندی احسان فرض کړی دی کله چی تاسو وژل کوی نه ښی طریقی سره وژل وکړی اوکله چی تاسو حیوان ذبح کوی نو ښی طریقی سره یی ذبح کړی او تاسوکی دی یو تن چاړه تیره کړه او حیوان ته دی راحت ورکړی

نو د حیوان مخامخ به چاړه نه تیره کوی نه دا چی یو حیوان ذبح کوی او بل ورته ګوری ځکه دا د احسان منافی کارونه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵۱- د ذبح په وخت د غواګانو اوګډو او بیزو راځملول مستحب دی او داسی**

**حال کی به نشی ذبح کولی چی ولاړی وی یا ناستی ځکه ځملول یی بهتر او پدوی باندی شفقت او نرمی کول دی**

**او چپ طرفته به ځملول کیږی ځکه پدی سره په ذبح کولو کی اسانی وی او په ښی لاس کی به چاړه نیول کیږی او چپ لاس باندی به د حیوان سر نیول کیږی**

**او څوک چی چپ لاسی وی او په ښی لاس باندی ذبح نشی کولی نو هغه به په ښی طرف حیوان ځملوی لیکن قبلی ته مخامخ او په چپ لاس به یی ذبح کوی ځکه دده دا کار په اسانی سره د ذبح باعث دی**

**او د اوښانو باره کی سنت دادی چی په ولاړه به نحر کولی شی شاته دوه ښپی به یی کولاو وی او مخی ته به تړلی شوی وی**

**۵۲-د ذبح کونکی قبلی طرفته مخ کول او د ذبیحه قبلی طرفته متوجه کول**

**مستحب دی او دا په هری قربانی کی مستحب دی لیکن په هدی او قربانی کی یی استحباب موکد دی د ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چی باید یو تن دی پټاسوکی ذبیحه پخپل او د قبلی په درمیان کی وګرځوی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵۳- قرباني يو عبادت دی او هر عبادت کی نيت ضروری وی نبی عليه السلام فرمايي د ټولو اعمالو دارو مدار په نيتونو باندی دی او د هر چا لپاره د عمل هغه ثواب دی چی هغه يی نيت وکړی او نيت ځکه ضروری دی چی مونږ پدی سره د عبادت او عادت مابين کی تمييز کولی شو

او د قرباني د ځناور اغستل او په خپل مقرر وخت کی ذبح کول کافي دی ځکه د نيت تعلق د زړه سره دی او اعمال پدی باندی دلالت کوی

۵۴- د ذبح په وخت بسم الله الله اکبر او دعا ويل پکار دی نو داسی به وايی

بسم الله الله اکبر اللهم ان هذا منک ولک اللهم تقبل منی يا تقبله عن فلان کله چی د بل چا لطرفه قربانی کوی

او پدی کلماتوکی واجب صرف بسم الله ده باقی کلمات ويل مستحب دی

۵۵- د قربانی د ځناور او د هدی د غوښو خرڅول جايز ندی نه ددی د څرمونو ويښتانو وړيو خرڅول جايز دی ځکه چی کوم شی د الله د عبادت په طور سره اداکړی شی هغی کی واپسی جايز نده او ددی شيانو خرڅول يو نوع واپسی ده

امام احمد فرمايي سبحان الله څرنګه دا خرڅوی او دا يی د الله لپاره قربانی کړی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵۷- جایز نده چی قصاب ته د قربانی نه څه غوښه وغیره ورکړی د هغه د ذبح یا خدمت په مقابل کی**

د علی رضی الله عنه ددی حدیث د وجی هغه فرمایی نبی علیه السلام ما ته امر کړی وو چی زه د هغه په اوښانو باندی قایم وسم او د هغی غوښی څرمنی صدقه کړم او قصاب ته د هغی نه هیڅ ورنکړم او نبی علیه السلام فرمایلی وو چی هغه ( قصاب ) ته یی مونږ د خپل طرفه ورکوو

او ځکه چی قربانی د الله لپاره ذبح شوی ده نو قصاب ته د هغی څه حصه ورکول د خرڅولو مشابه دی او دا یو نوع رجوع کول دی په قربانی کی چی جایز ندی

**۵۸-کله چی قصاب فقیر وی یا ملګری وی نو څه باک نشته چی هغی ته د صدقی په طور ورکړی شی یا د هدیه په طور لیکن مخکی نه به یی شرط نه وی لګولی چی که ذبح به می درله وکړه ما له به یی راکوی**

نو دا قصاب به د یو عام غریب حیثیت لری بلکی ده لره یی ورکول بهتر دی ځکه چی ده تکلیف وکه او ځان یی ستړی کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵۹- د قرباني کونکی لپاره جایز دی چی د قرباني غوښه وخوری یا یی چا ته هدیه کړی یا یی صدقه کړی**

الله تعالی فرمایی پخپله یی هم وخوری او غریب فقیر ته یی هم ورکړی

او بل مقام کی فرمایی تاسو یی هم وخوری او غریب سوال کونکی ته یی هم ورکړی دغه شان مونږ دا حیوانات ستاسو تابع ګرځولی دی دی لپاره چی تاسو شکر وکړی

**۶۰- علماو په هغه مقدارکی اختلاف کړی دی چی قرباني کونکی یی خوری یا یی هدیه کوی یا یی صدقه کوی**

لیکن پدی کی اساني ده او راجح خبره داده چی دری حصی یی کړی یوه حصه وخوری یوه هدیه کړی یوه صدقه کړی

او دا د ابن مسعود او ابن عمر رضی الله عنهما قول دی

ابو جعفر النحاس فرمایی

او د اکثرو علماو رایه داده چی د هغی څخه ابن مسعود ابن عمر عطا ثوری چی دری حصی کړی شی یوه حصه صدقه کړی یوه هدیه کړی او یوه خپله او دکور خلک وخوری

اوکه ددریمی حصی نه ډیره یی وخوړه څه باک نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۶۱- په قرباني کی د وکيل باره کی حکم دادی چی که هغه ته موکل ( چا چی دا وکيل ګرځولی دی ) هغه ورته اجازت کړی وو چی ويی خوری ترينه يا يی صدقه کړی يا يی هديه کړی نوکولی يی شی اوکه نه وو نو موکل ته به يی روغه سپاری**

**۶۲- د قرباني غوښه صدقه کول او فقيرانو ته ورکول واجب دی برابره ده که لګه وی اوکه ډيره او د وجوب دليل دالله دا قول دی چی خپله يی هم وخوری او غريبانو ته يی ورکړی**

**۶۳- اهل ذمه ته د قرباني د غوښی ورکول جايز دی خصوصا کله چی هغوی غريبانان وی يا د قرباني کونکی ګاونډيان وی يا يی رشته دار وی يا د هغوی زړونه د ايمان طرفته مايل کول مقصود وی**

**الله تعالی فرمايی : الله تاسو د هغه خلکو نه نه منع کوی چی تاسو سره يی جنګ ندی کړی او تاسو يی له کورونو څخه نه يی ويستلی چی تاسو د هغو سره نيکی وکړی او هغوی سره احسان وکړی بيشکه الله د احسان کونکو سره مينه لری**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶۴- په احادیثوکی ثابته ده چی نبی علیه السلام د قربانی د غوښو د ذخیره

کولو نه یوکال منع کړی وه او بیا یی اجازت ورکړی وو یعنی د غوښی د ذخیره کولو نه د منع حکم منسوخ شوی دی او دا د جمهورو علماو موقف دی

د سلمه بن اکوع رضی الله عنه څخه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی کله چی یوکس پتاسوکی قربانی وکړی نو دا دی په دریمه ورځ پداسی حال کی نه صباح کوی چی کورکی یی د قربانی غوښی نه څه شی پاتی وی

کله چی راروان کال راغلی صحابه و وویل ای دالله رسول مونږ همغه شان کار وکړو لکه پروس کال چی موکړی وو

نبی علیه السلام وفرمایل : خپله یی هم وخوری او نورو ته هم ورکړی او ذخیره یی هم کړی البته پروس کال په خلکو باندی سختی وه نو ما غوښتل چی تاسو ورسره مدد وکړی

۶۵- اصل داده چی قربانی به د قربانی کونکی په ملک اوکلی کی وی او

همغه کلی کی به یی غوښه تقسیمیږی لیکن دکلی او ملک نه باهر یی کول هم جایز دی کله چی حاجت وی یا پکی فایده وی

لکه کله چی یوکلی کی قربانیانی ډیر شی او غریب خلک کم وی یا بل کلی کی حاجت او غربت ډیر وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶۶- هغه کس چی خپل وطن کی ندی هغه له جایز دی چی په خپل وطن کی یوکس وکیل مقرر کړی او قربانی ورته وسپاری او هغه یی خلکوکی تقسیم کړی

۶۷- قربانی د عقیقه په ځای باندی کار نکوی ځکه دا هر یو بذاته مقصود عبادت دی او د هر یو سبب مختلف دی نو یو د بل قایم مقام نشی کیدای

والله اعلم

وصلی الله علی نبینا محمد صلی الله علیه وسلم

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**